انجنیر سلطان جان کلیوال
۲۰۱٦/۱۲/۰۱

# د هر قهرمان زوی قهرمان نه دی



د بشري ټولنو د تاریخ په اوږدو کې، هره ټولنه د خپل ټولنیز ژوند د پر مختګ په اوږده لاره کې د نظر او عمل په دواړو برخو کې داسي د ویاړ او ټولنیز افتخار نه ډکې ځیرې لري چې د هماغي ټولنې راتلونکی نسلونه ور باندی هسک سرونه ګرځي، ویاړ پري کوی او د همدی ډول اشخاصو په برکت د ځانګړی هویت لرونکی دی. که مونږ د خپلی ځمکي په هر ګوټ کې چې هلته یوه انساني ټولنه آباده ده او د ټولنیز ژوندانه د سمبنت او جوړښت د پاره کارکوی، د پرمختګ بهیر تر ځیرني لاندي ونیسو نو په اسانی سره به و ګورو چې د دی بهیر مخکښان او اتلان د لکونو او کروړونو بنیادمو په منځ کی چې دا ټولنه یی جوړه کړیده، د ګوتو په شمیر کسان دی او د همدی ټولنی ټول غړی وربانذی ویاړ کوی، په درونډ نامه یی یادوی او قبرونو یا د یادونو ځلو ته یی د احترام سرونه ټیټوی. داچي بشری ټولنه ډیره لویه او پراخه ده او د انساني ژوندانه اړخونه هم ډیر دی او په هر اړخ کی ګڼ شمیر اتلان او قهرمانان شته دی نو ځکه د الیکنه د دی توان نه لری چې د ټول بشریت ټول ویاړلی او نومیالی اشخاص په ځان کی را ونغاړی نوځکه د مشت نمونه خروار په مقوله بسنه کوو او موضوع ته په لنډه توګه نظر اچوو.

په لرغونی یونان کی چې د انساني تمدن لومړنی خښتی په هماغه جغرافیه کی ایښودل شویدی، د یو څو تنو نومونه د نړی د هری انسانی ټولني د انسان غوږونو ته رسیدلی او لا به هم وروړسیږی لکه افلاطون، ارسطو، سقرات، بطلیموس او نور اونور......خو په دی هکله چې ایا د هغوی زامن، لمسیان او را وروسته اولاده کی د دوی په لسمه یا شلمه برخه هم د خلکو په ذهنونو کی د یادولوړ وی او یا به له هماغه وخته تر ننه پوری د یوناني ټولنی د تاریخ په پاڼو کی د دوی په کورنیو پوری د کوم بل تړلی شخص نوم لیکل شوی وی کنه؟ ماته خو پته نشته ، خو په قوی ګومان به نور چاته هم څه پته نه وی، یعنی داچې اصلاً د دی ویاړلو اشخاصو په را وروسته نسلونو کی د دوی په څیر بل څوک نه دی را پیدا شوی، چې یا وربانذی یونانی ټولنه په هماغی اندازی وویاړی او یایی په نورو بشری ټولنو کی نوم پاتی شی.

په همدی توګه زمونږ په افغاني ټولنه کی هم د ټولنیز ژوندانه په جوړښت کی ډیری د ویاړ نه ډکی ځیری او ستر نومونه شته چی نه یواځی د هغوی د کورنیو د پاره بلکی د ټولو افغانانو د پاره د ویاړ، سرلوړی او تل پاتی افتخار سبب و او وی به. د مثال په توګه: د علم، معرفت، عرفان او ادب په جهان کی د مولانا جلالدین محمد بلخی، سنایی غزنوی، امیر خسرو بلخی، رابعه بلخی، رحمان بابا، خوشحال خان ختک، عبدالحمید مومند، امیر حمزه خان شینواری او لسګونو نورو ویاړمنو ځیرو نومونه واخلو. همدارنګه د ټولنیز علم او ابادئ د افکارو په روزلو او بیدارولو کی د


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

امیر علی شیر نوایی او سید جمالدین افغانی نوموونه هسی تل پاتی نوموونه دی چی ترڅو د افغان په نوم انساني ټولنه وجود ولری دا نوموونه به ورسره په سر کی ژوندی روان وی. په افغانستان کی د محمود غزنوی، میرویس نیکه، د ننني افغانستان د بانی او مؤسس اعلحضرت احمدشاه بابا، د هغه د لمسی شازمان، امیر شیر علی خان، غازی امان الله خان نوموونه د خپل وطن او وطنوالو سره د مینی د لرلو او سیاسی پوهی، زیرکتیا، زړورتیا او نورو ته د خدمت کولو هغه ستر نوموونه دی چی د دی هیواد  د تاریخ پاڼی به د تل د پاره پری ښکلی وی. د پردیو سره د مبارزی په میدان کی زمونږ د ګڼو ملی اتلانو په نوملړ کی د غازی محمد ایوب خان، ملالی،غازی وزیر محمد اکبرخان، میر مسجدی خان، غازی محمد جان خان، ملا مشک عالم، میر بچه خان، امین الله خان لوګری او په لسګونو نور هغه ویاړ من او قدرمن سرونه دی چی « څو چی پاتی یو افغان وی» ـ دا نوموونه به یادوی او ویاړ به پری کوی. ولی د دی ملی اتلانو له مړینی وروسته بیا تر ننه پوری نه ددوی په کورنیو کی او نه یی د نورو ملګرو په کورنیو داسی څوک را پیداشول چی د وطن په دغه څلوېښت کلن ناورین کی د افغان ولس د بی سره کاروان څاروان شی. یو څو کاله پخوا په کابل کی یو ماشو را پیدا شو چی سید جلال نومیده او پلاره یی د عوه وکړه چی دی د سید جمالدین افغانی لمسی دی او دی ماشوم دا نبوغ له هماغه نه په میراث وړیدی. دا ماشوم سید جلال چیرته کوم خارجی هیواد ته د زده کړی د پاره و لیږل شو اوچی درس یی خلاص شو نو بیرته وطن ته، را نه غی او د نا تائید شوو معلوماتو له مخی اوس د سعودی عربستان د شاهی کورنۍ په خدمت کی دی. داسی هم واوریدل شول چی د جهادی ډلو تر منځ د جګړو د اوارولو د پاره کوم کرت افغانستان تللی و خو کومه خاصه ګټه یی ونه کړه. په هر صورت دا نابغه هم اوس لکه د خپل نیکه په څیر د نورو ټولنو د پاره ژوند کوی، خو کله چی مړشو نو بیا به یی افغانان مړی غواړی.

له بده مرغه د پخوانی شوروی اتحاد د یرغل او د افغانستان د اشغال په ټوله دوره کی، زمونږ ټول وطن وران شو، ټول ستر کلی په کنډوالو او ټولی کروندی په شاړو بدلی شوی، په لکونو بی ګناه او بی دفاع افغانان و وژل شول، معیوب شول او د وطن نه مهاجر شول. مبارزه یی وکړه، جګړه یی وکړه او د وطن نه د ساتنی او د فاع په لاره کی یی د غلیم ګولیو ته سینی سپر کړلی او بلاخره یی وطن له پردیو خلاص کړ، خو داچی د افغانانو دا ملی مبارزه د څو پردیو مزدورو رهبرانو له خوا د جهاد په نوم بدله شوه او د وطن ملی مبارزین د مجاهدینو په نوم یاد شول، له یوی خوا او د جهادی تنظیمونو د مشرانو بندیدل د پردیو په لومو کی (چی لا تر اوسه د مستقل عمل صلاحیت ورسره نشته) له بلی خوا د دی سبب شول چی د روسانو سره د دښمنی نه زیات په خپل منځی دښمنی باندی سره اخته شی او د زور ازمایلو د پاره یی دا کرت د کلیو او باندو او درو پر ځای د هیواد ښارونه خصوصاً د کابل ښار چی د هیواد پلازمینه ده او هر یوه مزدور جهادی تنظیم غوښتل چی هغه تر لاسه کړی، د جګړی او مقابلی د پاره انتخاب کړ، شپیته زره بی ګناه کابلیان یی و وژل او ټول ښاریی داسی و نړاوه چی د پیژندلو نه یی وویسته. د دی جهادی نا اهله او مزدورو رهبرانو او د هغوی ناپوهو، وحشی او ځناور صفته قوماندانو چی اوه یی په پاکستان کی او اته یی په ایران کی د افغانستان د ورانولو د پاره جوړ شوی ول، دومره افغانان وزرول چی پخوانیو کفن کشانو ته یی دعا ګانی پیل کړی او له دوی نه یی تر اخری حده کرکه وکړه. د دوی دا ضد انساني ،ضد اسلامي اوو ضد افغاني اعمال د دی سبب شول د یوی نیمی لسیزی اود وسله والی او مخامخ مبارزی او د ملیونونو انسانانو له وژلو وروسته هم په دوی کی یو ملی قهرمان پیدا نه شو او یواځی تر ټولو ستر جنګ سالار عبدالرشید دوستم ته پکی د «خالد بن ولید» لقب ور په برخه شو.بل جنګ سالار احمد شاه مسعود پکی د پنجشیر د دری د نیمایی نه د کمو جلک قهرمان شو، بل د اور پرتوک (د مولوی خالص له قوله) ګلبدین حکمتیاریواځی د خپلی ډلی د پنځمی یا شپږمی برخی قهرمان شو، ملا

برهان ا لدين رباني يواځې د خپلې نژدې کورنۍ او يو څو تنو نورو جيره خوارانو د پاره قهرمان و ګرځيده او په همدې ترتيب ملا سياف، حضرت مجددي، پير سيد ګيلاني، ملا خالص، ملانبی محمدی، ملا محمد عمر، مزاری، کريمی ، محقق او همدی ته ورته نوری ځيری او قواری يواځې هغو دروازه ساتونکو ته قهرمانان و ګرځيدل چې د دوی له برکته د شتمنيو خاوندان شول.

عجيبه خو لاداده چې دريم شاه شجاع ښاغلی کرزی ته د ملی رهبر(کيدای شی د تمسخر له کبله وی) لقب ښاغلی اشرف غنی ورکړ او د کابل د هوای ډګر نوم يې لکه د (تړون ښار) او (نواب ښار) په څير د حامد کرزی په نوم ياد کړ، ښاغلی حامد کرزی بيا قسيم فهيم و نازاوه مارشال يې ورنه جوړ که، او داسی نور په لسګونو مسخره مثالونه شته چې د دی ډلو ټپلو اصلی يعنی ضد انساني، ضد افغانی او ضد اسلامی دريځونه راته په ګوته کوی.

اوس خبره داده چې زمانه تيريږی او د زماني يو لوی خصلت دادی چې د چا لحاظ نه کوی. که نن وی که سبا او که څو کاله وروسته وی، دغه جنګی جنايت کاران به حتمی او ضروری يا په ژوند او يا تر مرګ وروسته د خپلو هغو اعمالو حساب کتاب ور کوی چې د خپل شوم ژوندانه په اوږدو کی يې، د دی وطن د انسانانو په وړاندی سر ته رسولی دی. نو پوښتنه پيدا کيږی چی کله چې دا مصنوعی قهرمانان، د عدالت محکمې ته را کش کړل شی او د رټلو محکومينو په څير محاکمه شی ايا هغه وخت به هم د دوی اولاده او ميراث خواره لکه د نن په څير قهرمانان وی؟

راځی د يوی شيبې د پاره دا جهادی رهبران (چې په حقيقت کی د پردی نوکران دی)، ټول له يوی مخی په ړندو سترګو ملی قهرمانان قبول کړو، څکه چې وطن، دين او ناموس يې له روسانو نه آزاد کړيدی او د پرديو په مرسته يې د دی وطن تاريخ ته ستر وياړونه ګټلی دی، نو ايا د دوی نا اهله اولادونه هم بايد ملی قهرمانان و بولو او ملت بايد دوی ته هم د واجب الاحترام او غير مسؤلو ځيرو په سترګه و ګوری؟ د مثال په توګه ملاربانی د جمعيت د تنظيم مشرو، اوس چې هغه نور په دی نړی کی نشته ځای بايد حتمی او ضروری د هغه کوم زوی ونيسی؟ که ګلبدين حکمتيار له دنيا نه سترګی پټی کړی ضرور بايد دهغه ځای ناستی (که په هر حالت کی وی)، د هغه کوم زوی يا زوم ونيسی؟ د احمدشاه مسعود ځای بايد حتمی د هغه ورونو او يا ځوان زوی ته ور وسپارل شی؟ همدارنګه د حضرت صاحب، پير صاحب، خالص صاحب، مولوی نبی صاحب، ملاسياف صاحب،مزاری صاحب، کريمی، محقق، تورن اسماعيل، عطا نور او نورو لويو او وړو جنايت کارو او د فساد د مخکښو قوماندانانو اولادونه او نور اقرباء، بايد د تل د پاره د دی ملت په ناتوانه اوږو سپاره پاتی شی؟؟؟ دا ټول ښاغلی او د هغوی ميراث خواره بايد په دی وپوهيږی چې د افغان ملت په منځ کی داسی بی شميره وطن پالونکی او افغان ساتونکی عالمان، پوهان او محقيقين وجود لری چې د دوی د ژوندانه د هری شيبې او هرګام پورته کونی ياداشت او تصوير ورسره شته او د ضرورت په وخت کی به هغه ټول په مستنده توګه ميدان ته را واچوی او د دوی سره به د انصاف په محکمه کی د خپل مظلوم ملت نه د دفاع په منظور راحاضر شی.

که چيری په موجود افغان دولت کی کوم داسی څوک وجود ولری چې د خپل مظلوم او خوړل شوی ملت په دردونو او مجبوريتونو باندی خبر وی بايد د ټولو جنايت کارانو او مفسيدينو سره د راتلونی محاسبی د کره کيدو په هکله ، هر څومره چې امکان ولری بی له هر ډول شخصی غوښتنو او دښمنيو څخه پرته، اسناد راټول او د هيواد د پياوړو محقيقينو او څيړونکو په لاس کی ورکړی. همدارنګه ټول جنايت کاران، غله ،داړه ماران او د ملی شتمنيو لوټماران بايد دی ته په تمه پاتی شی چې د دوی سره د حسابی ورځ د قيامت د ورځی د محاسبی نه تر د مخه راتلونکی ده. همدارنګه د دوی اولادونه او ميراث خواره دی هم د جنايت کارو پلرونو او نيکونو د غلا او چور په شتمنيو نه نازيږی

او که لږه سپینه و ویل شی زیار دی وباسی چی د دوی په گناهونو کی ځان ور گډ نکړی او  کنه  دوی به هم لکه د هغوی په خیر د حساب کتاب سره مخامخ شی. ځکه نه د هر قهرمان زوی قهرمان دی او نه د هر جنایت کار زوی جنایت کار دی. هر څوک هم په دی دنیا د خپلو اعمالو او کړو وړو مسؤل دی او هم په بله دنیا کی د خپل پروردگار په وړاندی یواځی د خپلو عملونو په حساب ور کول مکلف دی. هرڅوک باید په ځانگړی توگه  د حساب ورکولو د پاره تیاری ولری.

په عمل د پلار نیکه دی مغرور نه شي

تلل کیږی هر انسان په خپل عمـــل

یا:

حتمی نه ده چی د غله بچي دی غل وی

موسی (ع) نه شـو بُت تـراش لکه پدر

پای

انجنیر کلیوال

تورنتو/ کانادا.  د نومبر/۲۹/۲۰۱۶